FMIC
د فرانسي طبي انستيتوت
د میندو او ماشومانو لپاره



# کلنی راپور - ۲۰۲۱

# لړلیک


٠١ د مشر او اجرائیوي رئیس پیغام

٠٢ ۲۰۲۱ ته یوه کتنه

٠٤ د افغانستان په کچه مخکښې چوپړتیاوې

٠٦ لاس ته راوړنې

٠٨ زموږ ناروغان

١٠ بېوزلو چوپړتیا

١٢ ټیلي میډیسن یا غیرې حضوري طبابت

١٤ وړتیا جوړونه

١٦ د با کیفتیه چوپړتیاوو پر لور

١٨ زموږ شریکباڼي او ملاتړ کوونکي

١٩ زموږ راتلونکی

٢٠ شمېرې


انځورونه دي کسانو اخستي : عبدالله عابد، ، ژان فرانکویس موسیا، عمرخان او اوریانی زیراح

# د مشر او اجرائیوي رئیس پیغام

د FMIC ترټولو مهمه موخه د افغانستان خلکو روغتیایي اړتیاوو ته د چوپړتیا چمتو کول دي. یاد روغتون په دې وروستیو کلونو کې د COVID ۱۹ وبا، دوامداره سیاسي بې ثباتۍ او شخړې له سترو ننګونو په شمول بیا هم خپل ماموریت په بریالیتوب سره ترسره کړ. په ۲۰۱۲ کې، FMIC په خپل تاریخ کې تر ټولو له ګډوډ او چټک بدلیدونکي چاپېریال سره مخامخ شو. پخوانۍ ننګونې لا په ځای پاتې وې چې نوې ننګونې هم رامنځته شوې. د افغانستان اوسنی حکومت نسکور شو او د افغانستان اسلامي امارت واک ترلاسه کړ. د نړیوالو بندیزونو لګول د هیواد د بانکدارۍ سیستم او مالي سکټور د نسکورېدو لامل شو، چې په پایله کې یې پراخه بېوزلي او تنګلاسي رامنځته کړه.


دا چې د عامې روغتیا د پاملرنې سیستم له نسکورېدو او د خلکو له کړاوونو سره مخ شو، د FMIC بورډ او مدیریت داسې لارې لټولې چې په دې توګه د FMIC بشرپاله ونډه زیاته کړي او په یو بدل شوي چاپېریال کې د یاد نهاد پرله پسې تړاو ډاډمن کړي .

د ناروغانو خیریه خدمات زیات کړای شول - بې معاوضې پاملرنه – ترځو ژوند ژغورونکو چوپړتیاوو ته د ناروغانو دوامداره لاسرسی ډاډمن کړي، سره له دې چې دې ناروغانو د پیسو ورکولو توان درلود.

پردې سربیره، د کوچنیانو د خوارځواکۍ شدید بحران ته د رسیدګۍ په موخه یې نوې چوپړتیاوې اضافه کړې. حال دا چې خپل بشرپاله ونډه یې زیاته کړې؛ نو ددې په څنګ کې FMIC وتوانېده چې خپل مهم پرمختیایي نوښت ته دوام ورکړي چې هغه د اکمال تخصص روزنیز پروګرام دی. په نهو څانګو کې د نارینه او ښځینه دواړو لپاره د طب او جراحۍ په برخه کې روزنې دوام لري. FMIC په هیواد کې یوازینی روغتون دی چې په دې برخو کې د ریزدنسۍ یا ټریني روزنې وړاندې کوي. د یادونې وړ ده چې د عملیاتي چاپېریال په پام کې نیولو سره په روغتون کې د بستر شویو ناروغانو شمېره او د ترسره شویو جراحیو شمېره دواړه خپلې لوړې کچې ته رسېدلي دي .

دا چې دا راپور په ۲۰۲۲ کې نهایي شو؛ نو FMIC په افغانستان کې لومړنی روغتون شو چې د خوندي پاملرنې ۵مې کچې معیارونه (تر ټولو لوړه کچه) پوره کړي، چې دا کار یې د کیفیت د نړیوالو معیارونو د پوره کولو لپاره د یاد روغتون د سرښندنې ښکارندویي کوي. د خوندي پاملرنې معیارونه د هالنډ ، امریکایی او سویلي افریقا سازمانونو لخوا په کم عایده هیوادونو کې د روغتونونو لپاره رامنځته شوي ، او د روغتیایي پاملرنې د بهرنۍ ارزونې په نهاد کې د کیفیت لپاره د سویس میشته نړیوالې ټولنې لخوا تایید شوي دي

د دوی د پایداره ملاتړ له کبله د FMIC بنسټ ایښودونکیو فرانسوي او AKDN شریکباڼو څخه باید خورا قدردانی وشي، چې دا کار په داسې یوه ننګوونکي کال کې د یاد نهاد د بریالیتوب او پایښت لپاره خورا اړین دی. پردې سربېره د منجمنټ د ټیم او د ډېرې سختې اړتیا پر مهال د افغانستان د خلکو د چوپړتیا لپاره د دوی د ژمنې او دوامداره زړورتیا لپاره د FMIC له ټولو کارمندانو څخه خورا قدردانی کېږي. له دوی سره تړاو ویاړ دی.



**لی هیلینګ**

د FMIC د رهبرې بورډ مشر



**عزیز احمد جان**

د FMIC اجراییوي مشر

# ۲۰۲۱ ته یوه کتنه

**۱۰,۳۱۲**
پذیرش

**۱۵۳,۰۵٤**
ملاقات کلینیکی

**٤٥۳,۳۲۱**
آزمایشات لابراتواری

**٧٦,۲۱۱**
پروسیجر های رادیولوژی

**٤,۰٤٧**
جراحی





**۹٦٦**
د کوچنیانو زېږېدنې

**۲,٧۲٧**
غیرې حضورې سلامشورې

**٤٧,٥۱٥**
ناروغانو له خیریه ځانګې ګټه اخستوونکې ( د ٦،۹۰۲ داخل بستر ناروغانو په ګډون)

ارائه مبلغ
**۲,٥** میلیونه ډالره
یې د ناروغانو خیریه ځانګې ته ورکړې دې



# د افغانستان په کچه مخکښې چوپړتیاوې

FMIC په افغانستان کې لومړنی روغتون دی چې ډېر جراحي پروسیجرونه یې ترسره کړي،
په بېلابېلو طبي برخو کې متخصصین روزي او یو شمیر نورې لاسته راوړنې یې ثبت کړي.

د زړه لومړنۍ پرانستې جراحي (۲۰۰۶)

د غیرې حضوري طبابت د چوپړتیاوو لومړنی پروګرام یې ترسره کړ (۲۰۰۷)

لومړنی روغتون دی چې د ISO 9001:2008 (۲۰۰۹) سند لري

لومړی کلنی نړیوال ساینسي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون په FMIC کې تنظیم شوی

په لومړي ځل یې په بریالۍ توګه ایزوفیوژیال اتریازیا ترمیم ترسره کړ (۲۰۰۶)

لومړي افغان د زړه جراحان دي چې د زړه ترلې جراحي ترسره کوي (۲۰۰۸)

لومړي افغان د زړه جراحان دي چې د زړه پرانستې جراحي ترسره کوي (۲۰۱۰)

یو کوچنی چې تر ۱ کیلو څخه یې کم وزن درلوده، د ډکتوس آرټریوزیس چې د زړه یوه ډول ناروغي ده، په لومړي ځل یې په بریالي توګه د جراحۍ له لارې وترل شو (۲۰۱۷)

لومړی روغتون دی چې په بریالۍ توګه یې یو له بل سره نښتي غبرګوونکي کوچنیان جلا کړل (۲۰۱۵)

لومړی روغتون دی چې د انستیزیولوژۍ، کاردیولوژۍ، پتالوژې او رادیولوژۍ په برخه کې یې ریزډنتان یا تریني روزلي دي

لومړی روغتون دی چې د زیږن د توراسکوپی هرینا (فتق) یې ترمیم کړ (۲۰۱۸)

د نوزېږو د جدي پاملرنو لومړنۍ ځانګړې مدرنه ځانګه لري (۲۰۱۶)

لومړی ۱۲۸ - سلایس سي ټي سکنر (۲۰۱۳)

د زړه او رګونو یا کارډیووسکولار جراحۍ کې د روزنې اکمال تخصص یا ریزډنسی ترسره کړ (۲۰۱۹)

لومړی روغتون چې په پورتني اندامونو کې د عصب ټرانسفر ترسره کړی دی (۲۰۲۰)

لومړی روغتون دی چې د امینوهستو کمستریۍ خدمات وړاندې کوي(۲۰۲۰)

لومړی روغتون دی چې په کړکیچن حالت کې د روغتون د نړیوال فیډریشن د سرو زرو جایزه ترلاسه کوي (۲۰۲۱)

لومړی روغتون دی چې د رون د پوره مفصل بدلونې جراحي یې ترسره کړه (۲۰۱۹)

لومړی روغتون دی چې زنګون د پوره مفصل بدلونې جراحي یې ترسره کړه (۲۰۲۰)

لومړی روغتون دی چې بالون ارټیریل سپټیسومي ترسره کوي (۲۰۲۱)

# لاس ته راوړني

## د کووید- ۱۹ واکسین

کله چې په افغانستان کې د کووید – ۱۹ واکسین پیل شول؛ نو د عامې روغتیا وزارت، FMIC د واکسیناسیون د مرکز په توګه وټاکه چې په دې توګه د خلکو اوخپلو کارمندانو لپاره ورته واکسین چمتو کړي. په ۲۰۲۱ کې، FMIC د کووید – ۱۹ درې ډوله واکسین چمتو کړل: استرا زینیکا، جانسن اینډ جانسن او سینوفارم. ټول ټال ۱۷.۱۳۶ دوزه ورکړل شوي دي. ټول کارمندان واکسین شول.

## د غوره والي جایزه

FMIC د روغتون له نړیوال فدراسیون څخه په کړکیچ کې د روغتیایي چوپړتیاوو د چمتو کولو په پار د عمان د سلطنت عالي جایزه ترلاسه کړه. د کړکیچ په ډلبندۍ کې د سرو زرو، سپینو زرو او برونزو عالي جایزې ورکول کېدلې - چې FMIC د سرو زرو یوازینی ګټوونکی و. د کوید – ۱۹ وبا پر مهال د FMIC د برېښنايي روغتیا یا eHealth پروګرام د اغېزې په پېژندنې سره دا جایزه د هسپانیې په بارسلونا کې د IHF نړیوال روغتون په ۴۴ ام کانګرس کې FMIC ته ورکړل شوه.

## د ISO د سند بیا ورکړه

په اګست ۲۰۲۱ کې تر تفتیش روسته، FMIC د ISO ۹۰۰۱ په توګه بیا تصدیق شو: د ۲۰۱۵ مطابقت، چې په ستونزمن عملیاتي چاپېریال کې د نړیوال کیفیت د معیارونو په ترلاسه کولو کې خپله ژمنتیا څرګندوي. دا روغتون په هیواد کې لومړنی روغتون و چې د ISO تصدیق یې ترلاسه کړ.

## د لویانو د کلنیک پراختیا

FMIC د وخت په تیریدو سره د لویانو لپاره په دوامداره توګه چوپړتیاوې اضافه کړي. په ۲۰۲۱ کې د ۲۵۰,۰۰۰ ډالرو په ارزښت د لویانو د کنسلټیشن کلینیکونو ته پراختیا ورکړې ده. لس کلینک خونې، څلور د پروسیجر خونې، د فلیبوټومي مرکز او څلور د ریکورۍ بسترونه اضافه شوي، چې ټول ټال ۵,۵۰۰ فوټ مربع ده. په ۲۰۲۱ کې، د FMIC د ۱۰,۳۱۲ داخل بستر ناروغانو ۲۸ سلنه یې لویان وو ( ۸۵ سلنه یې کوچنیان او ۱۴ سلنه میرمنې وې چې د نسایي ولادي پاملرنه یې ترلاسه کړې وه) پردې سربیره د خارج بستر یا سراپا ناروغانو نږدې نیمايي یې لویان و.

## له نوي عادي حالت سره ځان عیارول

د ۲۰۲۱ ام کال د اګست په میاشت کې د رژیم تر بدلون وروسته د افغانستان د روغتیایي پاملرنې سیستم په پراخه توګه زیانمن شو. د اقتصاد نسکورېدل، بانکي کړکیچ ، د طبي اکمالاتو کمښت او له هېواده د ډېرو روغتیايي پاملرنې د کارمندانو او نورو مسلکي کسانو وتل، د روغتونونو او د روغتیايي پاملرنې د مرکزونو لپاره سترې ستونزې رامنځته کړې دي. حال دا چې ډیری روغتونونه نه دي توانیدلي چې د شپږو میاشتو لپاره د کارمندانو معاشونه ورکړي، خو په FMIC کې معاشونه و نه ځنډېدل . د FMIC د خطر د مدیریت پلانګذارۍ په دې برخه کې لاسنیوی وکړ ترڅو دا ډاډمن کړي چې له کړکیچ څخه د وتنې لپاره بسیا طبي مصرفیدونکي توکي، اکمالات او بشري سرچینې په خپل اختیار کی لری. په هرصورت، د FMIC د بریالیتوب ترټولو مهم لامل د هغې د کارمندانو ژمنتیا او قرباني فوق العاده سرښندنه وه. د ټیم ترمنځ همغږی له FMIC سره د چوپړتیاوو په چمتو کولو کې لاسنیوی وکړ چې په دې توګه د اړینو روغتیایي پاملرنې اړمنو کسانو ته د یوه ژغورندویه په توګه عمل وکړي.



# زمونږ ناروغان



## زلیخا او زینب

د ۲۰۲۱ ام کال د اپریل پر ۱۵ مه نېټه د روژې په مبارکه میاشت کې ۸۰۰ کیلومتره لرې په هرات کې زیږېدلي دوه سره نښتي غبرګوونکې نجونې هر یوه زلیخا او زینب، FMIC ته راغلې. په پیل کې یې د ژوندي پاتې کېدو لپاره لږه هیله وه، ځکه چې د غبرګوونکیو نجونو نه یوازې ګېډې، بلکې ځیګرونه یې هم سره نښتي وه. خو په اوه ساعته جراحۍ کې، د روغتون د کوچنیانو د څانګې د جراحۍ ډاکترانو په بریالۍ توګه دا غبرګوونکي نجونې سره بېلې کړې. دا دویم ځل وه، چې په FMIC کې دوه سره نښتې غبرګوونکي یو له بله جلا کېږي. د روغتون خیریه څانګې د ۴۰ ٪ لګښت په ورکولو سره ددې غبرګوونکیو نجونو لپاره د دې جراحۍ په ترسره کولو کې مرسته وکړه.

## مروه

د ۷ ورځو کابلۍ مروه، خپل موروپلار، FMIC ته راوړه. د TGA په نامه د زړه یوه جدي ارثي ناروغي یې درلوده چې په دې ناروغۍ کې دوه هغه شریانونه چې له زړه څخه وینه بهر لېږدوي، په عادي توګه سره نښتې نه وي ، چې په دې توګه د وینې د پوره جریان مخنیوی کوي. د مروه موروپلار له هېواده بهر نشو تلای، نو FMIC د دوی یوازینۍ هیله او اسره وه دا ځکه چې په هېواد کې دا یوازینی روغتون دی چې TGA درملنه پکې کېږي. د بالون ارټیریل سیپټسټومي له ترلاسه کولو څخه مخکې مروه د FMIC د نوزېږو د لومړنۍ پاملرنې په څانګه کې تر یوې اوونۍ څخه ډېره موده تېره کړه، بالون ارټیریل سیپټسټومي د زړه یو ډول پراسیجر دی چې د TGA لخوا د رامنځته شویو ستونزو په اوارولو کې مرسته کوي. که هغې درملنه نه وی ترلاسه کړې؛ نو ژوند به یې په خطر کې وه. د روغتون خیریه څانګې د مروه د درملنې ۳۰٪ لګښت ورکړ.





## ستایش

۸ کلنه ستایش، چې د پروان اوسېدونکې ده، یوه ارثي ناروغي درلوده چې ښوونځي ته په تګ کې به یې دهغې مخنیوی کاوه. د عامې روغتیا وزارت نوموړې، FMIC ته راولېږله، چې دلته یې وړیا جراحیکي درملنه ترلاسه کړه. نوموړې اوس ښوونځي ته تلای شي.






## خوبان

خوبان ، ۶۰ کلنه مېرمن چې د بغلان اوسېدونکې ده، تر یو کال ډېر یې د خوړو په تېرولو کې ستونزه درلوده. ډېرو ډاکترانو او روغتونونو ته تللې وه؛ خو کوم تسکین یې نه وه ترلاسه کړی. په پای کې FMIC ته راغله او دلته یې تشخیص وشو چې د مرۍ سرطان لري.
اوسفیګیټومي ورته ترسره شوه چې په دې توګه یې د مرۍ بازسازي وشي. تر جراحۍ وروسته یې په عادي توګه خوراک څښاک کولای شو. د روغتون خیریه څانګې یې د درملنې ۳۵ ٪ لګښت ورکړ.

# د بېوزلیو چوپړتیا

FMIC دا ډاډمنوي چې ان کم درامده ناروغان هم د یاد روغتون د روغتیايي پاملرنې له چوپړتیاوو برخمنېدلای شي. د ناروغانو خیریه ځانګه له دې لپاره جوړه شوې چې په دې توګه دهغو کسانو د بیلونو ځینې یا پوره لګښتونه ورکړي چې د خپلو درملو او درملنې د لګښت توان نه لري په ۲۰۲۱ ام کال کې ۴۷،۵۱۵ ناروغانو ته د ۲.۵ میلیونو ډالرو په ارزښت خیریه مرستې چمتو کړای شوې ( چې په دې کې ۶،۹۰۲ داخل بستر ناروغان هم شامل وه) . دا شمېره د ۲۰۲۰ ام کال په پرتله د داخل بستر او خارج بستر ناروغانو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی ښيي. په ځايي اسعارو کې د خیریه ځانګې چمتو شوې مجموعه هم زیاته شوې وه ( د ډالرو د ارزښت د لوړېدو له کبله دا مجموعه په ډالرو کې راکمه شوې وه)

La Chaîne de l’Espoir په FMIC کې د ښځو او ماشومانو ځانګی اداره کول پ لاس کی لری. یاد مرکز ۴۰ بسترونه لري او هغه کم درامده ناروغان او کورنۍ يې چې له کابل څخه بهر، FMICته راځي؛ نو یاد مرکز ناروغانو او د کورنۍ غړي ته يې وړيا هستوګنه، د سفر لګښت او ۱۰۰٪ وړیا پاملرنه وړاندی کوی.




٦,٩٠٢


**داخل بستر ناروغانو سره د FMIC د خیره ځانګې له خوا مرسته شوې ده**

- ۰ – ۱۰۰ ناروغانونه درمنله شوې
- ۱۰۰ – ۳۰۰ ناروغانو درمنله شوې
- +٤,۰۰۰ ناروغانو درملنه شوی

په ۲۰۲۱ ام کال کې ښځو او ماشومانو ځانګه د ۱ میلیون € ( ۱.۱۸ میلیون ډالره) مالي مرسته او ۲،۵۰۲ ناروغانو ته يې اوسېدانه برابره کړې ده. په دې کې ۱،۰۴۲ د ژوند بدلونکې جراحي اقدامات هم شامل دي. پر وړیا درملنې سربېره،نوموړی مرکز د لاس حفظ الصه، خوړونې یا تغذیې او نسايي ولادي په څېر موضوعاتو لپاره هم د پوهاوی وړیا ناستې هم برابرې کړي دي.

نوموړی مرکز ته ناروغانو د یور لړ نهادونو له خوا رامعرفي کېږي لکه د عامې روغتیا وزارت، د سره صلیب نړیواله کمیټه، افغاني سرې میاشتې ټولنه، بې پولې ډاکتران ، Terre des Hommes ،ځايي روغتونونه او د ټولنې شورا ګانې.

# غيرې حضوري طبابت




**BPH:** باميان ولايتي روغتون
**FPH:** فيض آباد ولايتي روغتون


په ګرد افغانستان کې ، خلک د ډاکترانو او نرسانو د محدودې شمېرې، امنيتي ستونزو او کمزورې بېخبنا له کبله د روغتيايي پاملرنې باکيفيته چوپړتياوو ته لاسرسی نه لري. له ۲۰۰۷ ام کال راهيسې د FMICد eHealth پروګرام ، د باميان ولايتي روغتون، فيض آباد ولايتي روغتون، په کندهار کې ميرويس روغتون، د بدخشان ولايت د بهارک ولسوالۍ روغتون او په تاجيکستان کې د خورګ اوبلاست روغتون لپاره ټيلي کنسلټيشنې چمتو کړی. دا پروګرام په لرې پرتو سيمو کې مېشت له بېوزلو ناروغانو سره مرسته کوي، دا ځکه چې په دې کار سره به کابل او يا هم له افغانستانه بهر ته د تګ لپاره د دوی وخت او پيسې سپما شي او همداراز اوږده سفرونه به هم نه کوي. دا پروګرام د کويد – ۱۹ پانډيميک او د وسله والې شخړې پر مهال، چې د سفر مخنيوی کوي، خورا ارزښتناک وه..

FMIC همداراز په کراچۍ کې د اغا خان پوهنتون روغتون ، په پاريس کې له نيکېر روغتون، La Chaîne de l'Espoir او په فرانسه او اروپا کې له نورو نهادونو سره هم وصل دی. د دې روغتونونو ډاکتران د FMICډاکترانو ته ټيلي کنسلټيشنې چمتو کوي او هغه آم آر ای او سی ټی سکن او ماموګرافې هم لولي، چې د FMIC ډاکترانو ورلېږلي وي.

په ۲۰۲۱ ام کال کې، FMIC له لاندې روغتونونو سره ۲،۷۲۷ ټيلي ميډيسن کنسلټيشنې ( ۱،۷۲۷ ټيلي کنسلټيشنې، ۹۳۹ ټيلي راډيولوژي کنسلټيشنې او ۶۱ ټيلي پتالوژۍ کنسلټيشنې) چمتو کړي دي:

| | |
|---|---|
| باميان ولايتی روغتون | ۸۵۵ |
| فيض آباد ولايتی روغتون | ۸۹۱ |
| نکر، پاريس روغتون | ۹۰۵ |
| آقا خان پوهنتون روغتون | ۷۵ |
| نور روغتونونه | ۱ |

پردې سربېره، د بهارک ولسوالۍ روغتون، باميان ولايتي روغتون، فيض آباد ولايتي روغتون او په کندهار کې له ميرويس روغتون څخه د ۶۸۰ ګډونوالو لپاره يې ۹۲ انلاين د روزنې ناستې او د طبي ښوونې دوامداره ناستې ترسره



# وړتیا جوړونه

FMIC د خپل اکمال تخصص د پروګرام، د دوامداره طبې روزنې د پروګرام، د داخلي روزنې، طبي ماموریتونو، کلني کنفرانسونو او د زده کړې د انلاین پروګرامونو په شمول د بېلابېلو نوښتونو له لارې په دوامداره توګه د خپل کاري ځواک وړتیا لوړوي.

د اکمال تخصص پروګرام په ۲۰۱۲ ام کال کې د اغا خان پوهنتون او د افغانستان عامې روغتیا وزارت په همکارۍ رامنځته شو، چې په دې توګه په نهو څانګو کې متخصص ډاکتران وروزي: انستیزیولوژي، کارډیولوژي، د زړه او رګونو جراحي، اورتوپیدي، د کوچنیانو داخله، د کوچنیانو جراحي، پتالوژي، راډیولوژي او نسايي ولادي. له دې څنې پنځه څانګې یې پخپل ډول کې په ټول افغانستان کې یواځیني او بېسارې پروګرامونه دي. دا پروګرام تیوري، عملي او څېزنیزې روزنې هم چمتو کوي.

له درې څخه تر پنځه کلنه روزنیزه دوره کې ریسډنټان یا ټریني به په کراچۍ کې د اغا خان پوهنتون روغتون او په کابل کې نورو روغتونو ته هم ولاړ شي ترڅو خپلې نوبتي روزنې بشپړې کړي. ریسډنټان یا ټریني به د خپلې خوښې د موضوعاتو په اړه د تحقیق پروژه هم ترسره کوي.

د ۲۰۲۱ ام کال په مارچ میاشت کې د دوه میرمنو په شمول ۱۰ ډاکترانو په اوو بېلابېلو تخصصي څانګو کې خپله روزنه بشپړه کړه: انستزیولوژي، رادیولوژي، اورتوپیدي، د کوچنیانو جراحي، پاتولوژي، د کوچنیانو داخله او کاردیولوژي. د فراغت په لمانځغونډه کې د FMIC د شریکبانو استازو، ملي او نړیوالې غیرې دولتي موسسو، رسنۍ او مدني ټولنو ګډون کړی وه.

اوسمهال ۲۹ ریسډنټان یا ټریني په نهو څانګو کې روزل کېږي چې ۸ یې مېرمنې دي. په خواشینۍ سره ، چې د افغانستان د اوسنې وضعیت له کبله اوه ریسډنټانو یا ټریني دا پروګرام پرېښود. د عامې روغتیا وزارت په تایید سره درې نوي ټریني یې ځایناستي شول.

د FMIC د اکمال تخصص پروګرام ، خپلو ریسډنټانو یا ټریني او له روغتون څخه بهر لیواله ډاکترانو ته د شواهد پر بنسټ، د درملو په شمول، علمي سیمنارونه او ورکشاپونه چمتو کوي.





# د با کیفتیه چوپړتیاوو پر لور

## علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون

FMIC خپل ۱۱ ام کلنی نړیوال علمي کنفرانس او د کیفیت کنوانسیون جوړ کړ چې د یاد روغتون د هاندوهڅو د یوې برخې په توګه په افغانستان کې د علمي څېړنې او په روغتیایي پاملرنه کې د شواهدو پر بنسټ د پوهې پالنه کوي. دې کنفرانس له افغانستان، افریقا، اسیا او اروپا څخه طبي ډاکتران او څېړونکي سره راټول کړي وه. په دې کې ۳۷ شفاهي پرزنټیشنې او ۲۵ پوسټري پرزنټیشنې وې، او له بامیان، فیض آباد او کندهار ولایتي روغتونو او نورو ځایونو څخه ۱۰۰ حضوري او ۲۰۰ مجازي ګډونوالو برخه اخستې وه.

## دوامداره طبي ښوونه

FMICپه دې باور ده چې، روزنه د دوامداره او اغېزمن روغتیایي پاملرنې سیستم بنسټ دی. یاد روغتون طبي مسلکي کسانو ته ګڼ فرصتونه چمتو کوي چې د دوامداره طبي روزنې د کورسونو له لارې خپله پوهه او مهارتونه ډېر کړي.
په ۲۰۲۱ ام کال کې د کوید – ۱۹ پانډیمک او د امنیتي ننګونو باوجود FMIC بیا هم تر ۳۴۰ ډېرو روغتیایي ډاکترانو لپاره د څېړنې د سیمنار په شمول د طبي ښوونې ۱۲ ناستې ترسره کړي دي.





دې ناستو د جراحی، داخلې او نسایي ولادي په شمول په بېلابېلو برخو کې ګڼ موضوعات راونغاړل.

## روزنه

FMIC ژمن دی چې د زده کړې، ودې او نویو مهارتونو د لاس ته راوړنې لپاره د فرصتونو د چمتو کولو له لارې د خپلو کارمندانو وړتیا لوړه کړي.
په ۲۰۲۱ ام کال کې د روغتون د روزنې او ودې پروګرام  د نرسنګ، ښوونې، طبي چوپړتیاوو، کیفیت ، د ناروغ خوندیتوب، بشري منابعو او نورو موضوعاتو کې د داخلي روزنو ۱،۹۵۵ ناستې برابرې کړې وې.

FMIC ، ۱۲ کارمندان بېلابېلو نهادونو ته روزنې لپاره لېږلي چې په دې کې نړیوال غیرې دولتي موسسات، د خوندیتوب موسسات، د هستوګنې لپاره د اغا خان بنیاد، عامې روغتیا وزارت، سرینا هوټل او غضنفر طبي علومو انستېټیوټ شامل دي. پردې سربېره، ۲۶ کارمندان پاکستان ته ولېږل شول چې د اغا خان په پوهنتون کې روزنه ترلاسه کړي

FMIC  د افغانستان د بېلابېلو سیمو د روغتیایي پاملرنې ۲،۸۰۳ چمتو کوونکیو ته د کار کولو پر مهال روزنې برابرې کړي دي روزنه ترلاسه کوونکیو کسانو د طب، نرسنګ، لابراتوار او رادیولوژۍ  د  څانګو په شمول په بېلابېلو څانګو کې له لنډمهاله او اوږدمهاله لیوالتیاوو څخه هم برخمن شول، چېرته چې دوی نوي تکنیکونه زده کړل

د Française de Développement لخوا ددې نوښت مالي ملاتړ کېده. له عامې روغتیا وزارت ، لوړو زده کړو وزارت، کورنیو چارو وزارت او دفاع وزارت څخه نهه سوه اوه پنځوس کسان، ۵۴ کسان د روغتیا له نړیوال سازمان، ۴۳۹ کسان د اغا خان له انکشافي بنیاد او ۱۰۲ کسان د افغانستان لپاره د اسماعیلي شورى له خوا او ۱،۲۵۱ له نورو موسساتو څخه راغلي وه.



# زموږ شریکبانې او ملاتړ کوونکي

FMIC یو ډول ځانګړې ملتیا ده چې ددې ښکارندویي کوي چې مخ په وده هېوادونو کې د لوړ کیفیت روغتیایي چوپړتیاوو په راوړلو کې دولت او مدني نهادونه څرنګه یو له بل سره همکاري وکړي.

د FMICڅلور بنسټګر شریکبانې – د فرانسې دولت، د افغانستان دولت، د اغاخان پوهنتون ( چې د آغا خان د پراختیایي بنسټ یو نهاد دی) او La Chaîne de l'Espoir د FMICپه ملاتړ او وده کې کې خپلې کارنده ونډې درلودنې ته دوام ورکړی دی. پردې سربېره، د دوه اړخیزه تمویلوونکیو ملاتړ دوام لري چې په دې توګه د FMICد پروګرامونو او د افغان ولس لپاره د با کیفیته روغتیایي پاملرنې چوپړتیاوو د چمتو کولو پایښت لوړ کړي.

FMIC ، د ناروغانو د خیریه پروګرام لپاره له فرانسې دولت ( د Agence Française de Développement, AFD له لارې ) ، La Chaîne de l'Espoir جلالتمآب اغاخان او نورو انفرادي تمویلوونکیو څخه پیسې ترلاسه کوي. له AFD او د کاناډا له نړیوالو اړیکو (GAC) څخه د وړتیا لوړونې د پروګرامونو او د اکمال تخصص لپاره له AFD او GAC څخه د اکمال تخصص لپاره پیسې ترلاسه کوي.

FMIC په لومړي ځل په ۲۰۲۱ ام کال کې له Medical Bridges Inc او Project Cure څخه غیرې نقدي بسپنې ترلاسه کړې. دا د امریکا په متحده ایالاتو کې مېشت غیرې دولتي موسسات دي چې حیاتي طبي اکمالات او بیارغاول شوې تجهیزات چمتو کوي. د دوی بسپنو له FMIC سره د خپل ماموریت په ترسره کولو کې لاسنیوی وکړ. پردې سربېره FMIC اوسمهال له Global Giving سره کار کوي، چې یو انلاین پلټفورم دی، چې روغتون ته د بسپنې ورکړه اسانه کړي

تر دې دمه، FMIC له بنسټګرو شریکبانو او نورو ډونرانو څخه د روغتون د پروګرامونو د ملاتړ په موخه ۱۱۵.۵ میلیون ډالره ترلاسه کړي دي





# زموږ راتلونکی

د FMIC پراختیا به د افغانستان په روغتیایي پاملرنې سیستم کې ونډه اخستنه زیاته کړي او ان د روغتیایي پاملرنې چوپړتیاوو پراخې لړۍ ته به لاسرسی شونی کړي.

FMIC له ۱۶۹ څخه تر ۵۰۰ بستریز تدریسي روغتون د رامنځته کولو هوډ لري چې بشپړې بنسټیزې او تخصصي چوپړتیاوې به وړاندې کړ، د روغتیایي پاملرنې نوي چمتو کوونکي کسان به وروزي او د یو بشپړ څېړنیز پروګرام ملاتړ به وکړي. دا پراخېدونکي طبي کمپلکس اوسمهال تر ډیزاین لاندې دی

دا نوي مرکزونه به څېړنیزو فعالیتونو، د اکمال تخصص نورو اضافي پروګرامونو، پرمختللي تشخصیه اسانتیاوو او طبي چوپړتیاوو ته لاره اواره کړي

په دې نویو چوپړتیاوو کې به عمومي جراحي، کارډیولوژي، ګاسټروانټریولوژي، داخله، نیوروساینس، اونکولوژي، اورتوپیدی او د پښتورګیو د ناروغیو درملنه شامله وي.

د افغانستان د روغتیایي پاملرنې بدلېدونکیو اړتیاوو ته د ځواب ورکولو په موخه، FMIC د خپلو چوپړتیاوو لمن له سره ترتیب او تنظیم کړې او د پاملرنې د مهمو لومړنۍ او ثانویه چوپړتیاوو پر بشپړتیا یې تمرکز کړی چې په مېرمنو او کوچنیانو کې پر خوارځواکۍ به ځیرنه ولري. د La Chaîne de l'Espoir په مالي ملاتړ په مارچ ۲۰۲۲ کې د حادې خوارځواکۍ لپاره ۱۲ بستریزه څانګه رامنځته شوه.



# د شمېرو له مخې

| | ۲۰۰۶-۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | ۲۰۲۱ | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|
| بستر کېدنې | ۶۲,۱۱۰ | ۹,۴۲۰ | ۹,۴۷۵ | ۱۰,۳۱۲ | ۹۱,۳۱۷ |
| د کلینکونو ویزیټونه | ۱,۱۵۵,۱۳۲ | ۱۶۹,۷۶۵ | ۱۵۳,۸۶۱ | ۱۵۳,۰۵۴ | ۱,۶۳۱,۸۱۲ |
| زېږېدنې | ۱,۷۵۳ | ۱,۲۰۵ | ۱,۲۹۶ | ۹۶۶ | ۵,۲۲۰ |
| د رادیولوژۍ پروسیجرونه | ۶۵۸,۱۹۱ | ۸۱,۷۹۱ | ۷۹,۴۰۵ | ۷۶,۲۱۱ | ۸۹۵,۵۹۸ |
| لابراتواري معاینات | ۳,۶۷۰,۲۰۳ | ۴۶۱,۷۰۸ | ۴۴۹,۰۹۲ | ۴۵۳,۳۲۱ | ۵,۰۳۴,۳۲۴ |
| (عمومي) جراحي | ۳۱,۵۱۹ | ۳,۵۸۰ | ۳,۴۸۲ | ۴,۰۴۷ | ۴۲,۶۲۸ |




د فرانسي طبي انستيتوت
د میندو او ماشومانو لپاره
پوهنتون سرک، علي آباد،
کابل،افغانستان

www.fmic.org


THE AGA KHAN UNIVERSITY

La chaîne de l'espoir

MINISTÈRE DE L'EUROPE ET DES AFFAIRES ÉTRANGÈRES
*Liberté Égalité Fraternité*